Social Sceince
AcademicJournal

لیډ د ټولنیزو علومو علمي مجله

LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# علم الرجال پېژندنه: د صحیح او ضعیف روایت د پېژندنې معیاري لارښود

عبدالرحمن اڅکزی[1*]، پوهندوی دوکتور رحمت الله عظيمي[2]

[1*] حقوق څانګه، حقوق او سیاسي علوم پوهنځی، ملالۍ پوهنتون، کندهار، افغانستان

[2] اسلامي تعليمات څانګه، شرعيات پوهنځی، کندهار پوهنتون، کندهار، افغانستان

ايميل: lawyerabdullrahman@gmail.com

ترلاسه سوي: ۱۴۰۴/۰۹/۰۳ ، منل سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۱۹، خپره سوي: ۱۴۰۴/۱۲/۲۹، مخونه: ۷۸-۹۶

**لنډيز**

علم الرجال د اسلامي علومو یو بنسټيز او تخصصي علم دی چي د حديث د راويانو شخصيتي، اخلاقي، علمي او مذهبي حالتونه ارزوي او د نبوي سنتو د صحت او د ضعيفو روايتونو د تشخيص لپاره اساسي اهميت لري. د دې څېړني موخه د علم الرجال د مفاهيمو تشريح، د راويانو د ارزونې د معياري اصولو بيان او په معاصر علمي چاپېريال کي د دې علم د اړتيا روښانه کول دي. څېړنه د تحليلي توصيفي منهج پر بنسټ او د قرآن کريم، نبوي سنتو او د حديث د علومو پر پخوانيو سرچينو ولاړه ده. پايلې ښيي چي علم الرجال د حديث د کره والي، د فقهي استنباط د اعتبار او د اسلامي فکر د علمي ثبات لپاره نه بدلېدونکي بنسټ دی؛ نو د دې علم تدريس او ترويج اړين ګڼل کيږي.

**کليدي کلمې:** اړتيا، رجال، روايتونه، راويان، سند، متن.

# Introduction to Ilm al-Rijāl: A Standard Guide for Identifying Authentic and Weak Narrations

**Abdulrahman Achakzai*[1], Associate Professor Dr. Rahmatullah Azimi[2]**

[1] Department of Law, Faculty of Law & Political Sciences, Malalai University, Kandahar, Afghanistan.

[2] Department of Islamic Studies, Faculty of Sharia, Kandahar University, Kandahar, Afghanistan.

Email: lawyerabdullrahman@gmail.com

**Abstract**

ʿIlm al-Rijāl (the Science of Narrators) is a fundamental and specialized discipline in Islamic studies that evaluates the personal, moral, scholarly, and doctrinal conditions of hadith narrators. It holds essential importance in verifying the authenticity of the Prophetic Sunnah and identifying weak narrations. The aim of this study is to explain the key concepts of ʿIlm al-Rijāl, outline the standard principles for evaluating narrators, and clarify its necessity in the contemporary academic context. The research is based on an analytical-descriptive method and relies on the Qur'an, the Prophetic Sunnah, and classical sources of hadith sciences. The findings indicate that ʿIlm al-Rijāl is an indispensable foundation for ensuring the authenticity of hadith, the validity of juristic reasoning, and the intellectual stability of Islamic thought; therefore, its teaching and promotion are considered essential.

**Keywords**: Necessity, Ilm al-Rijāl, Narrations, Narrators, Isnād, Matn.

## سریزه

الْـحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِهِ مُحَمَّدٍ، وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِينَ!. د اسلام د مبارك دين د اصلي سرچينو په منځ کې، سنت (د رسول الله ﷺ اقوال، افعال او تقريرات) د قرآن کريم تر څنګ دوهمه بنسټيزه سرچينه بلل کيږي. د سنتو د حفظ او انتقال لپاره صحابه کرامو، تابعينو، محدثينو، او نورو علماؤ کرامو بې‌ساري هڅې کړې دي، چې په پايله کې يې د "علم الحديث" تر څنګ يو ځانګړی او مستقل علم، چې علم الرجال بلل کيږي، رامنځته سوی. علم الرجال د هغو اشخاصو د پېژندني او ارزوني علم دی، چې احاديث يې روايت کړي دي. دا علم هڅه کوي؛ تر څو د هر راوي عدالت، صداقت، حفظ، ضبط، ديانت او شخصيت وڅېړي. همدا ارزونه ده چې د حديث د قبول يا رد معيار ټاکي، ځکه حديث که څه هم د سند او متن څخه جوړ دی، خو د سند اصلي بنسټ راويان دي، او د هغوی اعتبار د روايت قوت يا ضعف معياري کوي.

علم الرجال د اسلامي شريعت له هغو بنسټيزو علومو څخه دی، چې د دين په حفاظت او د تحريف او انحراف په مخنيوي کې بنسټيز رول لري. قرآن کريم هم د نقل او روايت پر دقت ټينګار کړی دی. الله ﷻ فرمائي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ" (الحجرات: ٦). ژباړه: "ای هغو کسانو چې تاسو ايمان راوړيئ، که چيږي را تګ وکړ تاسو لره فاسق او بدکار په يوه خبره سر؛ نو تاسو ښه تحقيق پکي وکړئ!، له جهته د وېرې د دې چې و به رسوئ تاسو يوه قوه لره ضرر او تاوان په ناپوهۍ سره، نو پس و به ګرځئ تاسو په هغه څه سره چې مو عمل کړی؛ خفه او پښېمانه" (د قرآنکريم د معانيو پښتو ترجمه او تفسير، ب ت. ۱ ټوک، ۱۵۹۳مخ). همداراز، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "نضَّرَ اللهُ امرأً سمعَ منا حديثًا، فبلَّغهُ كما سمعَه" (الترمذي: ۲۶۵۷). ژباړه: " الله ﷻ دې هغه کس ښايسته کړي، چې زموږ يو حديث واوري او هماغسې يې نورو ته ورسوي". دا نصوص د حديثو د نقل او تصديق اهميت واضح کوي، او علم الرجال هم همدې اصولو ته ځواب وايي. د دې علم په مرسته کولای سو، چې ضعيف، موضوعي، او جعلي حديثونه له صحيح روايتونو څخه بېل کړو.

دغه علمي مقاله د "علم الرجال پېژندنه: د صحيح او ضعيف روايت پېژندني معياري لارښود" تر سرليک لاندې ترتيب سوې ده، ترڅو د علم الرجال تعريف او مفهوم، د علم الرجال موضوع، د راويانو د ارزوني معيارونه، د علم الرجال مسائل، د علم الرجال ګټې، د علم الرجال بنسټيز اصطلاحات، د علم الرجال مشهور علماء، د معاصري اړتيا له مخې د دې علم اهميت او نور اړوند اړين موضوعات روښانه کړي.

## پخوانيو آثارو ته کتنه

په پښتو ژبه کې تر اوسه د علم الرجال په اړه ځانګړې علمي مقاله نه وه ليکل سوې؛ خو بيا هم د حديث، مصطلح الحديث او د راويانو د پېژندني اړوند يو شمېر آثارو کې پر ځينو اړخونو بحث سوی دی.

**د علم الرجال د اساسي اصولو په اړه پخوانيو محدثينو پراخي څېړني کړي دي.** لکه؛ د ابن صلاح مقدمه ابن الصلاح (۱۴۱۶هـ)، د ذهبي ميزان الاعتدال، تذكرة الحفاظ او سير أعلام النبلاء (بې نېټه)، د ابن حجر عسقلاني تهذيب التهذيب او تقريب التهذيب (۱۹۸۴)، د امام بخاري التاريخ الكبير او الجامع الصحيح (۱۴۰۷هـ)، او د ابن أبي حاتم الجرح والتعديل (۱۳۸۱هـ) ټول په دې ټينګار کوي چې علم الرجال د حديث د اعتبار او د روايت د صحت د تثبيت لپاره بنسټيز علم دی .يادو اثارو د عدالت، ضبط، جرح او تعديل، او د راويانو د طبقاتي وېش هغه معيارونه تشريح کړي چې د اسلامي امت تر ټولو مستند بنسټونه بلل کيږي. د دغو آثارو تحليلونو څرګندونه دا ده چې د حديث کره‌والی د راوي د شخصيتي ثبات، عدالت، حافظې ځواک او فکري سلامتيا سره مستقيم تړاو لري.

**د حديث او سنتو د تشريعي، فقهي او تاريخي ارزښت په اړه پخوانۍ ليکني،** لکه؛ د سباعي السنة ومكانتها في التشريع الاسلامي (۱۴۰۵هـ) او د بغدادي الكفايه في علم الروايه (۱۳۸۱هـ) د سنتو د ثبوت، د روايت د انتقال د اصولو، او د روايت د قبول شرايطو پر اهميت ژور بحث کړی دی. دغه آثار په يوه خوله ټينګار کوي چې سنت يوازې هغه وخت د تشريع معتبره سرچينه پاتېدای سي چې د راويانو د وثاقت پېژندنه په پياوړي علمي بنسټ ولاړه وي؛ ځکه چې د کمزوري راوي روايت د فقهي استنباط په ساحه کې د خطرناکو انحرافاتو او تحريفونو لامل ګرځي.

**د شيعه او سُني مکتبونو د رجال پوهني معاصري څېړني،** لکه؛ د جعفر سبحاني كليات في علم الرجال (۱۴۰۸هـ) او دروس موجزه (۱۴۲۴هـ)، د النجاشي رجال النجاشي (۲۰۱۰م)، د المشكيني الوجيزة في علم الرجال (۱۴۱۰هـ)، او د الفضلي اصول علم الرجال (۱۴۲۰هـ)، د علم الرجال د معاصر درک لپاره مهم تحليلي بنسټونه وړاندي کوي. دغه آثار د دواړو مذاهبو د رجال منهجونه تشريح او پرتله کوي، د راويانو د ارزوني اصول راسپړي، او دا څرګندوي چې د علم الرجال د پرمختګ مسير د زماني، علمي اړتياوو او ټولنيزو شرايطو له بدلون سره هم‌مهاله تحول موندلی دی.

**د علم الرجال د تاريخي ودې او مرحلو په اړه تخصصي څېړني،** لکه د الزريجاوي (۲۰۱۳م) ليکنه چې د اماميه فقهاوو له ليدلوري د رجال پوهنې د تکامل تسلسل څېړي، او د خليل او کاظم (۱۴۴۱هـ) څېړنه چې د علم الرجال تعريف، تاريخ او د اسلامي علومو په جوړښت کې د هغه موقعيت روښانه کوي، څرګندوي چې دا علم په تدريجي ډول له ابتدائي نقدي مباحثو څخه د يوه منظم، مدوَّن او خپلواکه تخصصي علم په توګه رامنځته سوی دی.

بناءً، ويلای سو، که څه هم د علم الرجال په اړه پراخ آثار موجود دي، خو د ډېرو څېړنو ژبه عربي، فارسي يا نوري دي، او په پښتو کې لا تر اوسه جامعه، تحليلي او معياري څېړنه نه ده سوې. دا ژبنۍ تشه د پښتو لوستونکو لپاره د علم الرجال د اصولو په درک، تدريس او عامه پوهاوي کې جدي خنډ ګرځي. سربېره پر دې، د سوشل ميډيا په دور کې د جعلي حديثونو چټک خپرېدل، د علم الرجال د اصولو نه پېژندل، او د ضعيفو روايتونو پر اساس د فتواوو ورکول

له هغو ستونزو څخه دي، چې د دې علم د ښوونې او څېړنې اړتیا یې لا زیاته کړې ده. همداراز، په پښتو ژبه د مستندو او علمي مراجعو کمښت دا اړتیا زیاته کړه، چې په معتبرو سرچینو ولاړه یوه نوې، معیاري او تحلیلي مقاله ترتیب سي او ټولنې ته وړاندې کړل سي، څو د علم الرجال د پېژندنې، اهمیت، موخو، معیارونو او مسائلو په اړه وړ، کره او باوري معلومات عام سي.

## د څېړنې ستونزه

سره له دې چې علم الرجال د حدیث د صحت او د دیني استدلال د اعتبار بنسټ دی، چې پرې په عربي، فارسي او نورو ژبو کې ګڼ شمېر علمي آثار، څېړنې او مقالې لیکل سوي دي. لکه: أبو یاسر محمد بن مطر بن عثمان الزهراني، أبو حاتم، امام ذهبي، ابن حجر عسقلاني، امام العیني او نورو علماء کرامو په دې برخه کې ستر خدمت کړی دی. دوی ټولو د علم الرجال اصول، قواعد، او اصطلاحات په تفصیل سره بیان کړي دي. دوی د راویانو د عدالت، ضبط، او د حدیث د اعتبار لپاره مهم معیارونه وړاندې کړي، چې د اسلامي علومو د پراختیا اساسي بنسټونه ګڼل کیږي. دغه منابع د حدیثي علومو د اصولو د جوړولو او د علم الرجال د اصطلاحي حدودو د تشریح لپاره مهمې سرچینې دي. خو په پښتو ژبه کې تر اوسه په دې برخه کې کومه ځانګړې، هر اړخیزه او علمي مقاله نه ده لیکل سوې. دا تشه د علم الرجال د معرفت د عامفهمۍ، تدریس، او پراخ پوهاوي پر وړاندې یو مهم خنډ ګڼلای سو. همداراز، د جعلي روایتونو خپرېدل، د دې علم په هکله د عامه پوهاوي نه شتون له امله د ضعیفو اسنادو پر اساس فتواوې ورکول او په پښتو ژبه په دې موضوع کې د مستندو او علمي لیکنو کموالی او نوري، هغه ستونزې دي چې دا اړتیا رامنځ ته کوي، تر څو په دې برخه کې څېړنه وسي او د علم الرجال د پېژندنې، د دې علم د اهمیت، موخو، معیارونو او مسائلو اړوند له بېلا بېلو مؤثقو او معتبرو سرچینو څخه صریح احکام او معلومات راټول او د یوې علمي مقالې په شکل ټولنې ته وړاندې سي.

## د څېړنې اهمیت او د اړتیا دلائل

علم الرجال یو له هغو علومو څخه دی، چې د اسلامي شریعت د تطبیق، د دیني احکامو د استنباط، او د نبوي سنتو د تصفیه لپاره حیاتي ارزښت لري. دا علم د راویانو د صداقت، عدالت، ضبط، شهرت، علم، او عقیدوي تمایل پر بنسټ د روایتونو د قبول یا رد معیارونه برابروي. د روایاتو د قوت او ضعف ارزونه، د جرح او تعدیل پروسه، او د روایتونو د صحت تائید هم د همدې علم له لارې امکانپذیر کیږي. د علم الرجال له برکته، د اُمت د دیني میراث جعلي او ضعیف روایتونه پېژندل سوي، او صحیح احادیث محفوظ پاته سوي. همداراز، دا علم د دیني اختلافاتو د تحلیل، د روایتونو د مقابلې، او د اجتهادي هڅو لپاره بنسټیزه علمي مرسته برابروي. له همدې امله، دا علم نه یوازې د علم الحدیث اساسي رکن دی، بلکې د فقه، تفسیر، اصول، کلام او د دیني استدلال لپاره هم یوه مهمه ستنه ګڼل

کیږي. د دې علمي مقالې په پای کې به علم الرجال، د دې علم اهمیت، موخې، د علم الرجال مفاهیم او اصطلاحات، ګټې او نور اړوند موضوعات و پېژندل سي او په هکله به یې عامه پوهاوی زیات سي.

## د څېړنې موخې

- د علم الرجال او د هغه د بنسټیزو مفاهیمو پېژندل.
- د راویانو د شخصیت، عدالت، ضبط، او د روایت د اعتبار د ارزونې معیارونه پېژندل.
- د علم الرجال مشهور علماء پېژندل.
- د علم الرجال د شتون اړتیا او د دې علم اهمیت واضح کول.

## د څېړنې پوښتنې

- علم الرجال څه ډول علم دی، او اساسي مفاهم یې څه دي؟
- د راویانو د عدالت، حافظې، شخصیت او د روایت د اعتبار د ارزونې لپاره کوم اصول او معیارونه کارول کیږي؟
- د علم الرجال مشهور علماء څوک دي او هغوی د دې علم د ودې لپاره کوم خدمتونه کړي دي؟
- علم الرجال ته څه اړتیا ده، او دا علم د حدیثو د قبول یا رد لپاره څه ارزښت لري؟

## د څېړنې مېتود او مواد

دا یوه کتابتوني مقاله ده او د توصیفي او تحلیلي مېتود پر بنسټ لیکل سوې ده، چې پکښې له قرآن کریم، نبوي احادیثو، او له معتبرو کتابونو او مقالو څخه معلومات راټول سوي دي. د یادي لیکنې په متن کې مأخذونه د (APA) پر ستایل ترتیب سوي او په پای کې د کارول سویو مأخذونو عمومي لیست راوړل سوی دئ. دغه علمي مقاله په بشپړ اخلاص، رښتینولي، د علمي امانتدارۍ په رعایت او ټولو اسلامي او عرفي ارزښتونو ته په احترام لیکل سوې ده.

## موندنې

موندنې د علمي څېړنو یوه بنسټیزه برخه ده، ځکه دا هغه پایلې دي، چې د څېړونکي له لوري د علمي مسئلې د تحلیل او ارزونې په اساس استنباط سوي وي او کارول سویو میتودونو، نظري چوکاټونو، او معتبره مأخذونو ته انعکاس ورکوي. په دې مقاله کې چې د "علم الرجال" موضوع تر تحلیلي او توصیفي څېړنې لاندې نیول سوې، د معرفت، مفاهیمو، اصولو او تاریخي پرمختګ پر بنسټ مستندې او له شرعي نصوصو سره سمون لرونکې پایلې تر لاسه سوي دي. په دې موندنو کې د علم الرجال لغوي او اصطلاحي تعریف، د حدیث راویانو د شخصیت ارزونې معیارونه، د جرح او تعدیل بنسټیز مفاهیم، د دې علم لنډ تاریخي سیر او مطرح علماء په علمي انداز تحلیل سوي دي.

## الف: د علم الرجال پېژندنه

علم الرجال چې د حدیثو د راویانو د شخصیت، صداقت، عدالت او حافظې ارزونې ته ځانګړی سوی دی، له "علم" او "رجال" څخه ترکیب سوې اصطلاح ده. په دې برخه کې به د علم، رجال او علم الرجال لغوي او اصطلاحي تعریفونه تشریح سي، تر څو د دې علم بنسټونه، ماهیت، او د اسلامي علومو په منځ کې یې ارزښت روښانه سي.

### ۱- د علم لغوي او اصطلاحي تعریف

علم د عربي ژبې کلمه ده، چې له "عَلِمَ، يَعْلَمُ، عِلْمًا" څخه اخیستل سوې ده او په لغت کې پوهې، ادراک، معرفت، یا پوهېدو ته وایي (الزبیدي، ۱۴۱۸ق. ۱۸٦مخ). یا هم "علم" د دریيو حرفونو (عَلِمَ) مصدر دی؛ لکه څنګه چې فراهیدي وایي: "علم یعلم علماً نقیض جهل" (الفراهیدي، ب،ت. ۱۵۲ مخ). یعني: "علم داسې پوهه ورکوي چې د ناپوهۍ ضد وي". یعني که علم رښتینی وي، نو هغه به ناپوهي له منځه وړي (الطلقاني، ۱۹۹۴م. ٥٦ مخ). الله ﷻ فرمائي: "لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ" (الانفال: ٦٠). ژباړه: تاسو یې نه پېژنئ، خو الله ﷻ هغه ښه پېژني. په هر صورت؛ علم د پوهې او لوړتیا سرچینه ده او د انسان له پاره د لارې رڼا جوړوي (الفارابي، ۱۹۸۷م. ۱۹۹۰مخ). په اصطلاح کې علم هغه ترتیب سوې او منظمې پوهې ته ویل کیږي، چې د اصولو او قواعدو پر بنسټ د یوې ځانګړې موضوع په اړه حاصله سوې وي (الزبیدي، ۱۸٦مخ).

### ۲- د رجال لغوي او اصطلاحي تعریف

رجال د "رَجُل" جمع ده، چې په لغت کې سړي، نارینه یا بالغ انسان ته ویل کیږي (الشهرزوري، ۱۹۸٦م. ۱۳۸ مخ). یا هم: په "لسان العرب" کې، "رجل" د انسان هغه ډول دی، چې د ښځې په خلاف وي (ابن منظور، ۱۹۹۹م. ۵ جلد، ۱۵۴ مخ) همداراز، الله ﷻ فرمائي: "وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ" (البقره: ۲۸۲). ژباړه:" او له خپلو سړو (مسلمانانو) څخه دوه شاهدان حاضر کړئ". په اصطلاح کې، "رجال" هغه کسان دي چې د اخبارو او آثارو راوړونکي وي، توپیر نه کوي، چې نارینه دی او که ښځینه (الفضلي، ۱۴۲۰هق. ۹ مخ).

### ۳- د علم الرجال تعریف او مفهوم

علماؤود علم‌الرجال لپاره بېلابېل تعریفونه کړي، خو د ټولو مفهوم او موخه یوه ده، چې ځیني یې په لاندې ډول دي:

۱- علمُ الرجال هغه قواعد او اصول دي چې د هغوی له مخې د حدیث د راوړونکي حالت او اعتبار پېژندل کیږي (المشکیني، ۱۴۱۰هـق. ۱۸ مخ).

۲- علم الرجال د حدیث د راویانو وضعیت، لکه د دوی وثاقت، صداقت، ضعف او نور اړخونه څېړي (الفضلي، ۱۱ مخ).

۳-جعفر سبحاني وايي: علمُ الرجال هغه علم دی چي د حدیث د راویانو د شخصیت او ځانګړتیاوو د پېژندلو لپاره رامنځته سوی دی. (السبحاني، ۱۴۲۴هـق. ۱۳مخ).

۴-علمُ الرجال د حدیث د راویانو د حالاتو لکه عدالت، حفظ، ضبط، صداقت، ضعف او همدارنګه د هغوی د روایت د منلو یا رد کولو په اړه بحث او څېړنه کوي. (المحصني، ۱۴۳۲هق. ۱۱ مخ).

۶-دا علم د علومِ الحدیث یوه بنسټیزه څانګه ده چي د هغې له لاري علماء پرېکړه کوي، چي کوم راوي د اعتماد وړ دی او کوم د روایت شرطونه نه پوره کوي (الشهرزوري، ۱۹۸۶م. ۱۳۸ مخ).

د ذکر سویو ټولو تعریفونو له مخي څرګندېږي چي د علم الرجال اصلي موخه د راویانو د وضعیت او ځانګړتیاوو پېژندنه او د حدیث د اعتبار لپاره د هغوی د روایتونو څېړنه ده او دا چي علماء وپوهېږي کوم روایتونه د اعتبار وړ دي او کوم نه دي، څو د حدیث د صحت په ارزونه کي دقیق او علمي پرېکړه وکړي (الفضي، ۱۱ مخ).

**ب: د علم الرجال بنسټیز مفاهیم او اصطلاحات**

هر هغه څوک چي غواړي په نقد، تحلیل او تحقیق کي د حدیثونو دقیقه او علمي پوهه ولري، باید د علم الرجال مفاهیم او اصطلاحات وپېژني. دغه مفاهیم نه یوازي د راویانو د ارزوني معیارونه څرګندوي، بلکي د صحیح، ضعیف او موضوع حدیث ترمنځ د توپیر کولو بنسټ هم برابروي.

**۱ –حدیث:** په لغت کي "خبر"، "قول"، یا "نوي خبري او شي"ته وايي. په اصطلاح کي هغه قول، فعل یا تقریر دی، چي رسول الله ﷺ ته منسوب وي (العباد او المراد، ب.ت. ۲ مخ).

**۲-خبر:** په لغت کي خبر د یو شي په اړه معلومات ورکولو ته ویل کیږي. په اصطلاح کي هغه روایت دی چي د رسول الله ﷺ یا صحابه کرامو، یا تابعینو له لوري یو قول، فعل یا تقریر یا صفت روایت سوی وي. محدثین د حدیث او خبر ترمنځ توپیر داګني، چي حدیث خاص هغه دی، چي له رسول الله ﷺ څخه روایت سوی وي، مګر خبر عام دی او کیدای سي، چي د رسول الله ﷺ، صحابه کرامو او یا تابعینو خبري هم پکښي شاملي وي(العباد او المراد، ۲ مخ).

**۳- اثر:** په لغت کي "نښه"، "پاتي شوني"، یا " لږ پاتي سوی شی" ته وايي. دا اصطلاح معمولاً د هغه څه لپاره کارېږي چي د یوه شي له تېرېدو یا ترسره کیدو وروسته پاته سي، لکه د قدم نښه، د خبرو نښه، فزیکي یا معنوي پاتي شوني. د علم الحدیث په اصطلاح کي آثر هغه روایت ته ویل کیږي چي د صحابي یا تابعي له قول، فعل یا تقریر څخه نقل سوی وي ، نه د رسول الله ﷺ څخه (البغدادي،۱۳۸۱هق. ۱ جلد، ۸۵ مخ).

**۴- صحابي:** هغه مسلمان دی، چي رسول الله ﷺ یې لیدلی وي، د هغه پر رسالت یې ایمان راوړی وي او د ایمان په حالت کي مړ سوی وي. دوی د اُمت تر ټولو غوره نسل دی، او عدالت یې متفقٌ علیه دی. الله ﷻ فرمائي:

"رَّضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ" (المائدة: ۱۱۹). ژباړه: الله ﷻ دي له دوی راضي سي او دوی دي له الله ﷻ څخه راضي، دا دی لوی بری. همداراز، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "خَيرُكُمْ قَرْنِي، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ..." (صحيح البخاري: ۳۶۵۰). ژباړه: ستاسي غوره کسان زما د زماني خلكك دي، بیا هغه کسان چي دوی تعقیبوي، بیا هغه کسان چي دوی تعقیبوي ... .

**۵– راوي:** راوي هغه څوک دی چي حدیث نقلوي، که له خپل استاد څخه يې اوریدلی وي یا لیکلی وي، او بیا يې نورو ته ورسوي. د راوي د اعتبار درجه د علم الرجال اساسي موضوع ده. د حدیث د صحت له پاره د راوي حالت خورا مهم دی(العسقلاني، ۱۹۹۳م. ۱ جلد، ۲-۱۵ مخونه).

**٦– سند:** د روایت کوونکو هغه لړی ده، چي د راوي څخه تر رسول الله ﷺ پوري رسیږي. سند د حدیث د اعتبار بنسټ دی. عبدالله بن مبارک وایي: "الإسناد من الدين، ولولا الإسناد لقال من شاء ما شاء". ژباړه: سند د دین برخه ده، که دا نه وای، نو هر چا به هر څه ویلای(العباد او المراد، ۳ مخ).

**۷– متن:** د حدیث هغه الفاظ دي چي معنا يې افاده کوي. یعني د روایت اصلي مضمون دی. که څه هم علم الرجال د سند له پلوه بحث کوي، خو د متن ارزونه هم د نقد مهم اړخ دی، که متن کي شذوذ یا علت وي، نو روایت ردیږي(العباد او المراد، ۳ مخ).

**۸– عدالة:** دا د راوي د دیني استقامت، صداقت، تقوا، عزت، پرهېزګاري، او د بدو عادتونو څخه لېري والي ته وایي. عدالت یو اخلاقي معیار دی (العبید، ۲۰۱۵م. ۹٦ مخ).

**۹– ضبط:** ضبط د راوي د حافظې یا لیکلي کتاب د کره والي ځواک ته وایي. ضبط دوه ډوله وي: ۱-ضبط صدر: دا د حافظې پیاوړتیا ده. ۲-ضبط کتاب: دا د لیکلي کتاب د نقل کره والی دئ. راوي باید په دواړو، یا لږ تر لږه په یوه کي پیاوړی وي (العبید، ۹۸ مخ).

**۱۰– ثقة:** هغه راوي دی، چي عدالت او مضبوط ضبط ولري. ثقه راوي ته محدثین زیات اعتبار ورکوي او حدیثونه عموماً صحیح ګڼل کیږي، تر څو چي کوم بل علت شتون و نه لري (العبید، ۱۰۱ مخ).

**۱۱– محدث:** هغه شخص دی، چي د روایت او درایت په اعتبار سره په علم حدیث باندي مشغول وي او د ډېرو روایتونو او راویانو په هکله علم لري(العباد او المراد، ۴ مخ).

**۱۲– حافظ:** د حافظ درجه تر محدث لوړه ده. یعني حافظ په هره طبقه کي د راویانو په باره کي د هغوی احوال پېژني، په کوم چي محدث علم نه لري (العباد او المراد، ۴ مخ).

**۱۳– مجروح:** هغه راوي دی، چي عدالت یا ضبط يې کمزوری وي. مجروح راوي ته ضعيف، کذاب، سيء الحفظ، مختلط، یا متروك ويل کيږي، چي هر یو يې د تضعیف درجه لري. (العدوي، ب.ت. ۵۸ – ۵۹ مخونه).

**۱۴-مجهول:** هغه راوي دی، چي د اعتبار په هکله یې کافي معلومات شتون و نه لري چي پر دوه ډوله دی: ۱- مجهول العین : هغه دی، چي یوازي یو کس روایت څني کړی وي. ۲-مجهول الحال: هغه دی، چي پېژندل سوی وي، خو تعدیل یا جرح نه وي پرې سوې. (العدوي، ۴۱ مخ).

۱۵-الجرح والتعدیل: دا د راویانو د نقد او ستاینې علم دی. ۱-الجرح: د راوي کمزورتیا ښیي. مثلاً: کذاب، ضعیف. ۲-التعدیل: د راوي ستاینه او اعتبار ښیي. مثلاً: ثقة، صدوق. دا تر ټولو حساسه او علمي برخه ده او یوازي یې هغه علماء حق لري، چي ډېر دقیق او باوثوق وي (الذهبي، ب،ت. ۱ جلد، ۴ – ۲۰ مخونه).

## ج: د علم الرجال د بحث موضوع

د دې علم موضوع د هغو کسانو پېژندنه ده، چي حدیث را نقلوي او روایت یې کوي، په دې علم کې د هغوی د اعتبار یا نه اعتبار په اړه پوهه ترلاسه کیږي، لکه د دوی صداقت، ستاینه او انتقادات (الزریجاوي، ۲۰۱۳م. ۴۱۵ مخ). دلته د تحقیق اصلي برخه د راوي شخصیت دی، لکه آیا هغه د باور وړ دی؟ ایا دقت لري؟ ایا ضابط دی؟ ایا عادل دی؟ او یا برعکس په دې علم کې پر دې بحث کیږي، چي کومي ځانګړني د راوي په اړه د حدیث د منلو یا نه منلو له پاره اړیني دي. دلته د راوي د حالاتو د پوهېدو له پاره عمومي اصول وړاندي کیږي، چي موږ ته د دې وړتیا راکوي، ترڅو پوه سو، چي د هغه روایت منل کیږي، که نه؟. سید محمد قزویني وایي: "د علم الرجال موضوع د هغو کسانو په اړه ده چي د حدیث په سند کې راځي او دا علم د هغوی د صداقت او عدالت په اړه معلومات وړاندي کوي" (القزوني، ۱۴۳۸هـق. ۲۲ مخ). او سبحاني وایي: "د علم الرجال موضوع د حدیث د راوړونکو په اړه ده، چي د سند د سلسلې له مخي تر رسول الله ﷺ پوري رسیږي" (السبحاني، ۱۴۲۴هـق. ۲۳مخ). مامقاني وایي: "د هر علم موضوع د هغه علم ذاتي ځانګړني دي." (المقاماني، ۱۴۱۳هـق، ۴۵مخ). سبحاني په خپل کتاب "کلیات في علم الرجال"کې وایي: "د علم الرجال موضوع د حدیث د راویانو د حالاتو څېړنه ده. دا علم یوازي د هغو ځانګړتیاو په اړه بحث کوي چي د هغوی د خبرو د منلو یا ردولو له پاره اړوند وي" (السبحاني، ۱۴۰۸هـق. ۱۴مخ).

بناءً، د پورتنۍ وضاحت په پایله کې ویلای سو، چي د دې علم تطبیق دوه برخي لري: **۱-د راوي د دوري پېژندل:** د راوي اعتبار د هغه د ژوند چاپیریال او دوري سره تړاو لري. د راوي د حالاتو اړوند پوهه په دوه لارو ترلاسه کیږي: یو -واقعي معرفت : دلته د راوي ژوند کول، حالات او کارونه پېژنو، چي ایا هغه صداقت او اعتبار لري او کنه؟. دوه -ظاهري معرفت: دلته هغه شاهدان پېژنو. چي له راوي سره معاصر دي او د هغه ښه رفتار او صداقت تائیدوي. **۲-د راوي وروسته پوهه:** کله چي د راوي دور پای ته ورسیږي، باید د هغه د ارزوني له پاره د "کتب الرجال" څخه کار واخلو. دلته موږ د علم الرجال عمومي قواعد پلي کوو او د راوي د اعتبار اړوند پوهه ترلاسه کوو (ابن صلاح، ۱۴۲۳هـ، ۷ مخ).

**د: د علم الرجال موخه**

د دې علم موخه د حدیث د روایت کوونکو د حالاتو پېژندنه ده، لکه د هغوی صداقت او عدالت او نور. د دې پوهې پر بنسټ کولای سو چې پرېکړه وکړو، چې کوم حدیث د منلو وړ دی او کوم نه دی؟. جعفر سبحاني وايي: "د علم الرجال موخه دا ده، ترڅو د حدیث راوړونکو د صداقت او حقیقت په اړه بشپړ معلومات ترلاسه کړو" (السبحاني، ۱۴۲۴هـق. ۱۳مخ). بناءً، دا علم رابښيي، چې کوم راوي د خپل روایت په اعتبار سره د منلو وړ دی او کوم نه؟. او له موږ سره مرسته کوي، چې د صحیح او ضعیف، همدا راز کولای سو حدیث له غیر حدیث نه معلوم کړو خاصتاً، کله چې د روایتونو ترمنځ ټکر شتون ولري (خلیل او کاظم، ۱۴۴۱هـق. ۴۱۵مخ).

**هـ: د علم الرجال اهمیت او د شتون اړتیا**

علم الرجال د حدیث راویان را پېژني، چې آیا هغوی عدول دي او که نه؟، آیا هغوی مؤثق دي او که نه؟، آیا هغوی د ستاینې وړ دي که نه؟، ای هغوی معلوم دي که مجهول؟. همداراز، کوم روایتونه د اعتبار وړ دي او کوم يې نه؟. خلاصه دا چې موږ ته دوه عمده موضوعات له معلوماتو سره وړاندې کوي چې د دې علم اړتیا او ارزښت نور هم قوي لکه:

**۱–د حدیث د سند ارزونه:** علم رجال د حدیث سند (د نقلوونکو سلسله) ارزوي. د دې له پاره چې پوه سو کوم حدیث د رسول الله ﷺ د خبرو او افعالونو ښخه صحیح دی، اړینه ده چې د هغه حدیث هر راوي (نقلوونکي) ته وګورو. هر راوي باید د امانتدارۍ، صداقت، او د حدیث د نقلولو د اصولو سره سم وي. که یو راوي په دې شرایطو کې کمزوری وي، نو هغه حدیث د شک وړ ګرځي.

**۲–د راوي شخصیت مطالعه:** علم رجال د راوي شخصیت ته ځانګړی پام کوي. راوي باید نه یوازې د امانتدارۍ سمبول وي، بلکه د هغه د ژوند تاریخ باید ثابت کړي، چې هغه یو معتبر او صالح شخصیت دی. د علم رجال متخصصین د هر راوي په اړه تفصيلي څېړنه کوي، لکه د هغه علم، عمل، او اخلاق. مثلاً؛ امام مسلم په کتاب "صحیح مسلم" کې ځیني حدیثونه د خپل راوي "عبدالله بن عباس" ښخه نقل کړي دي. عبدالله بن عباس د صحابه کرامو له جملې ښخه وو او د حدیث د نقلولو په برخه کې ډېر مشهور و. د علم رجال متخصصین د عبدالله بن عباس صداقت تائید کړی، چې د هغه حدیثونه ډېر معتبر دي (الزریجاوي، ۴۱۴ مخ).

**و: د علم الرجال تاریخي سیر**

د دې علم اړتیا له رسول الله ﷺ وروسته سمدستي رامنځته سوه، خو عملاً یاد علم د لومړۍ هجري پېړۍ په وروستیو کې را منځته سوی، ځکه د حدیث نقل کوونکو شمېر زیات سو او رسول الله ﷺ ته د دروغو نسبت شروع سو، نو اړتیا پیښه سوه، چې راویان باید و پېژندل سي. ابن سیرین رحمه الله فرمائي: "لَمْ يَكُونُوا يَسْأَلُونَ عَنِ

الإِسْنَادِ، فَلَمَّا وَقَعَتِ الْفِتْنَةُ، قَالُوا: سَمُّوا لَنَا رِجَالَكُمْ، فَيُنْظَرُ إِلَى أَهْلِ السُّنَّةِ فَيُؤْخَذُ حَدِيثُهُمْ، وَيُنْظَرُ إِلَى أَهْلِ الْبِدَعِ فَلَا يُؤْخَذُ حَدِيثُهُمْ" (ابن صلاح، ۱۴۴۳هـ، ٦ مخ). ژباړه: دوی (لومړني مسلمانان) به د سند (راویانو) پوښتنه نه کوله، خو کله چې فتنه (یعني اختلافات، د درواغو حدیثونو خپریدل، او د بدعتیانو ظهور) پیښه سوه، نو خلکو وویل: راویان مو راته ونوموئ! نو که به اهل سنت وو، د هغوی حدیث به اخیستل کیده، او که به اهل بدعت وو، نو حدیث به یې ردېده. بناءً؛ کولای سو د علم الرجال د پرمختګ پړاوونه په لاندي ډول را خلاصه کړو:

۱ – **ابتدائي مرحله (لومړۍ او دویمه هجري پېړۍ):** په دې پړاو کي علم الرجال منظم شکل نه درلود، خو د حدیثو امامانو د راویانو حالات، عدالت، او حفظ ته متوجه وو. د صحابهوو، تابعینو او د هغوی شاګردانو ترمنځ دا کار شفاهي و، او له تقوا، عدالت، او ثقه والي څخه یې د راویانو یادونه کوله. مثلاً: امام شُعْبة بن الحجاج (المتوفی: ۱٦۰هـ) او سفیان الثوري (المتوفی: ۱٦۱هـ) د راویانو د نقد او جرح له پاره مشهور وو.

۲ –**تشکیلي مرحله (دریيمه هجري پېړۍ):** دا مرحله د علم الرجال د تدوین پیل ګڼل کیږي. په مرحله کي د راویانو د احوالو لیکل شروع سول. مشهوره کتابونه ولیکل سول. لکه: الجرح والتعدیل د ابن أبي حاتم الرازي (المتوفی: ۳۲۷هـ)، التاریخ الکبیر د امام بخاري (المتوفی: ۲۵٦هـ)، نسائي، او نورو محدثینو.

۳ –**د پوخوالي مرحله (څلورمه تر شپږمه هجري پېړۍ):** په دې مرحله کي علم الرجال نهایتاً لوړوالي ته ورسېد. د اسنادو، شیوخو، شاګردانو، او د ملاقاتو سلسلې دقیقي مطالعه سوې او په یاده برخه کي جامع کتابونه ولیکل سول، لکه: تهذیب الکمال د المِزي (المتوفی: ۷۴۲هـ)، تهذیب التهذیب د ابن حجر العسقلاني (المتوفی: ۸۵۲هـ)، المیزان د الذهبي (المتوفی: ۷۴۸هـ)، الکاشف د الذهبي. (ابن صلاح، ۱۴۴۳هـ، ٦ – ۱۰ مخ).

## ز: د علم الرجال مشهور علماء او شخصیتونه

د علم الرجال په بنسټیز جوړښت او پرمختګ کي د اسلامي امت ګڼ شمېر وتلو علماوو ارزښتناک علمي خدمتونه ترسره کړي دي. دغه محدثینو نه یوازي د راویانو د پېژندني او ارزوني اصول تنظیم کړي، بلکي په دې برخه کي یې ګڼ معتبر علم] آثار هم تألیف کړي، چې په ټوله کي یې علوم الحدیث ته ژور بنسټ او اعتبار ورکړی دی. دلته به د علم الرجال د ځینو پېژندل سویو او اغېزمنو علماؤو لنډه پېژندنه وکړو.

۱- **یحیی بن معین (المتوفی: ۲۳۳ هـق):** نوموړی د علم رجال له بنسټګرو څخه دئ، د جرح و تعدیل په برخه کي یې ستر خدمتونه کړي دي. د حدیثونو د صحت او ضعیف والي په ارزونه کي یې بې ساری جُرئت درلود. امام ذهبي رحمه الله یې په هکله وایي: "الإمام الحافظ، شیخ الإسلام في الجرح والتعدیل" (الذهبي، ۱۹۹۸م، جـ۲، ۴۲٦ مخ).

**۲- علي بن المديني (المتوفی: ۲۳۴ هـق):** نوموړی د حدیثو د علل متخصص، امام بخاري یې شاګرد و. د حدیث علل (پټې ستونزې) او راویانو په تحلیل کې ځانګړې مهارت درلود. د حدیثونو سندونو ته یې ډېر پام و. ابن حجر رحمه الله یې په هکله وایي: "هو إمام هذا الشأن –يعني العلل –وإليه المنتهى فيه" (العسقلاني، ۱۹۸۴م. جـ۷، ۳۳۹مخ)..

**۳- احمد بن حنبل (المتوفی: ۲۴۱ هـق):** نوموړی د حدیثو لوی امام، د فقهي مذهب بنسټګر او د راویانو د پېژندنې په برخه کې هم ډېر فعال و. د حدیثو ستره حافظه او د راویانو د ارزونې په برخه کې یې بې‌ساری قدرت درلود. همداراز، د حدیثو د دقیت او معیارونو په ټاکلو کې یې خپله ځانګړې نقشه وړاندې کړه. ابن جوزي رحمه الله یې په هکله وایي: "كان من أعلم الناس بالحديث، وأعرفهم بصحيحه وسقيمه، وبأحوال الرواة" (ابن الجوزي، ۱۹۹۹م. ۴۵مخ).

**۴- محمد بن سعد (المتوفی: ۲۳۰ هـق):** نوموړی د تاریخ او سیرت په برخه کې مشهور دی، د راویانو ژوند لیکونه یې راټول کړي. د علم رجال لومړني تدوین کوونکي وو. د صحابه‌وو او تابعینو په هکله یې پراخ معلومات راټول کړي. مهم آثر یې الطبقات الكبرى د صحابه‌وو، تابعینو، او راویانو ژوند لیکونه او د هغوی د اعتماد سطحه پکې ذکر سوې. امام ذهبي رحمه الله یې په هکله وایي: "الإمام، الحافظ، صاحب الطبقات، وهو من أوائل من صنف في طبقات الصحابة والتابعين" (الذهبي، ۲۰۰۱م. جـ۱۰، ٥٦٨ مخ).

**٥- امام محمد بن إسماعيل البخاري (المتوفی:٢٥٦ هـق):** نوموړی د صحیح البخاري مؤلف، د حدیثو او رجال د علمونو ستر امام. د راویانو د تحلیل او د حدیثونو د تصحیح له پاره یې بې‌ساري سخت معیارونه وټاکل. مهم آثار یې الصحيح البخاري د نړۍ تر ټولو صحیح د احادیثو کتاب دئ. همداراز التاريخ الكبير د راویانو په اړه پراخ معلومات لري. نوموړي د حدیثو د راویانو د جرح او تعدیل له پاره سخت معیارونه ټاکلي دي، چې وروسته په علم الرجال کې معیار سول. لکه: ثقة (صادق/موثق)، ضعیف (ضعيف الذاكرة)، جيد (جيد الحفظ)، سقیم (سقيم الحديث)، موصول (متصل) او نور. امام ذهبي رحمه الله یې په هکله وایي: "الإمام، الحافظ، سلطان المحدّثين، أبو عبد الله البخار" (الذهبي، جـ۱۲، ۳۴۸ مخ).

**٦- امام مسلم بن الحجاج النيسابوري (المتوفی: ٢٦١ هـق):** نوموړی د صحیح مسلم مؤلف او د حدیثو د سندونو په تحلیل او تنظیم کې شهرت لري.. د حدیثو د تحلیل لپاره د راویانو د مختلفو طرقو او سندونو په اړه بې‌ساري پوهه درلوده. مهم آثار یې الجامع الصحيح مسلم د بخاري وروسته تر ټولو معتبر د حدیثو کتاب دی. امام ذهبي رحمه الله یې په هکله وایي: "الإمام، الحافظ، الحجة، مسلم بن الحجاج النيسابوري، صاحب الصحيح" (الذهبي، جـ ۱۲، ٥٨٠ مخ).

**۷- ابو حاتم الرازي (المتوفی: ۲۷۷ هـق):** د راویانو د جرح او تعدیل د علم په برخه کې یو ژور متخصص وو او د خپلو معاصرو محدثینو سره یې ډېره همکاري درلوده. مهم آثر یې الجرح والتعدیل د راویانو د ضعف او قوت په اړه مفصل معلومات لري. نوموړي د راویانو د تحلیل له پاره یې معیاري اصطلاحات معرفي کړي او د حدیث د اصولو په اړه ژوري څېړنې وکړې. (الذهبي، جـ۱۳، ۲۶۰ – ۲۷۰ مخونه).

**۸- امام النسائي (المتوفی: ۳۰۳ هـق ):** نوموړي د حدیثو او راویانو درجه بندۍ کې تخصص درلود. او د حدیثونو د ارزونې لپاره خپل خاص اصول وټاکل. مهم آثر یې الضعفاء والمتروکین پکښې هغه راویان چې د حدیثونو له لحاظه کمزوري یا له اعتبار څخه ساقط ګڼل سوي یاد سوي. نوموړي د حدیثو د جرح و تعدیل لپاره د پخوانیو محدثینو نظریات راټول کړل او د حدیثو د ارزونې پر مهال د سند پر بشپړتیا یې ډېر پام و. (الذهبي، جـ۱۴، ۱۲۵ – ۱۳۵ مخونه).

**۹- ابن حجر عسقلاني (المتوفی: ۸۵۲ هـق):** نوموړی د متأخرینو مشهور عالم دی. د علم رجال په برخه کې یې د پخوانیو علماو ارزونې تنظیم او مختصر کړې. مهم آثار یې تهذیب التهذیب، تقریب التهذیب او تحریر تقریر التهذیب او داسې نور کتابونه دي نوموړي د راویانو د ژوند، اعتماد او طبقاتو مفصل معلومات وړاندې کړي . او لسان المیزان د راویانو د ضعف او نقد ځانګړی کتاب دی. نوموړي د علم رجال ډېري کټګورۍ یې توضیح کړې او د پخوانیو محدثینو د نظریاتو په جمع بندي او تنظیم کې یې مهمه برخه اخستې ده. (الذهبي، جـ۱۵، ۳۶۰ – ۳۸۰ مخونه).

**۱۰- محمد بن حِبّان البُستي (المتوفی: ۳۵۴ هـق):** نوموړی د علم الرجال، جرح او تعدیل او د حدیثو د تصحیح په برخه کې د متقدمو او متأخرینو ترمنځ د پُل حیثیت لري. ابن حِبّان د راویانو د عدالت او ضبط په ارزونه کې ځانګړی منهج درلود؛ هغه ډېر راویان په خپل اصل کې عادل ګڼل، تر څو یې د ضعف څرګند دلیل ثابت سوی نه وای، له همدې امله یې د توثیق د پراخوالي له کبله شهرت درلود. مهم آثار یې کتاب الثقات المجروحین من المحدثین او صحیح ابن حبان دي، امام ذهبي رحمه الله یې په هکله وایي: "الإمام، الحافظ، العَلاَّمة، صاحب التصانیف، وكان من أوعیة العلم" (الذهبي، سیر أعلام النبلاء، جـ۱٦، ۹۳ –۱۰۵ مخونه). خلاصه داچې؛ دغه علماء هر یو د علم رجال په برخه کې مهمې آغېزې لرلې او د خپل عصر د حدیثونو د ارزونې له پاره یې ځانګړي اصول ټاکلي. د دوی د کارنامو له برکته، د حدیثونو تحلیل او د راویانو د اعتبار ارزونه لا ډېره سمه او دقیقه سوې.

## ح: د علم الرجال ځانګړني/ خصوصیات

د علم الرجال د ځانګړنو په پوهه سره، کولای سو دغه علم د علوم الحدیث د نورو برخو څخه را بېل کړو، ځینې مهمې ځانګړنې یې عبارت دي له:

۱ – **موضوع یې ځانګړې ده (راویان):** ډېری اسلامي علوم یا د قرآن، حدیث، فقه، عقیده یا اصولو سره تعلق لري، خو علم الرجال خاص د راویانو په شخصیت، عدالت، حافظه، او ژوند بحث کوي. خو دا علم یوازې په دې تمرکز کوي چې حدیث راوړی شخص څوک دی؟ د اعتبار وړ دی که نه؟، مګر د نورو علومو موضوعات لکه د اصول الفقه، فقه، تفسیر، د شریعت احکام دي، خو د علم الرجال موضوع انسانان دي – یعني راویان (الکوفي، ۲۰۱۰م. ۱ جلد، ۴۶۴ مخ).

۲ – **موخه یې ځانګړې ده (د سند د اعتبار تثبیت):** د علم الرجال اساسي هدف دا دی چې معلومه کړي کوم حدیث ثابت او د باور وړ دی او کوم حدیث ضعیف یا جعلي. خو دا د حدیثو د قبول یا رد بنسټیز شرط دی. له همدې امله دا علم د حدیث نقد ته لاره هواروي. مګر نور علوم د حدیث د مفهوم، تفسیر یا تطبیق سره کار لري، خو علم الرجال د سند د کره‌والي له پاره مهم دی (الکوفي،۱ جلد، ۴۶۴ مخ).

۳ – **تمرکز یې پر اشخاصو دی (شخصیت‌پېژندنه):** علم الرجال د راویانو د ژوند، اخلاقو، دین‌داري، شهرت، درواغ ویلو یا نه ویلو، او حتی د هغوی د شاګردانو او استادانو تحلیل کوي. خو دا کار ډېر دقیق، حساس او ژور تحلیل غواړي. مګر دا ځانګړنه نور علوم نه لري، ځکه هغه د اشخاصو پر ځای مفاهیمو ته ګوري (الکوفي، ۱ جلد، ۴۶۴ مخ).

۴ – **مستقل علم دی (نه تفسیر دی، نه فقه، نه اصول):** علم الرجال د اسلامي علومو په منځ کې یو مستقل علم دی. که څه هم د حدیث علم سره رابطه لري، خو خپله بېل علم دی، خپل اصول، معیارونه، او منابع لري (الکوفي، ۱ جلد، ۴۶۵ مخ).

۵ – **ځانګړي معیارونه لري (ثقه، عدل، ضعیف...):** علم الرجال راویان د خاصو کټګوریو پر بنسټ درجه‌بندي کوي. لکه: ثقه (د باور وړ)، عادل، ضعیف، کذاب (درواغجن)، مجهول (ناپېژندل سوی) او متروک (پرېښودل سوی). دا معیارونه خاص د علم الرجال دي، نور علوم دا ډول مفصل شخصیت ارزونه نه لري (الکوفي، ۱ جلد، ۴۶۵ مخ).

٦ – **علمي، تحقیقي او تاریخي ماهیت لري:** علم الرجال د راویانو حالات د تاریخي اسنادو او علماوو د شهادتونو پر اساس تحلیل کوي. له دې سره دا علم یو ډول تاریخي کره کتنه هم ده. دا تحلیل له فقه یا تفسیر سره فرق لري، ځکه هغوی فتوی یا تفسیر وړاندي کوي، خو علم الرجال کره کتنه کوي (الکوفي، ۱ جلد، ۴۶۵ مخ).

۷ –**تحلیلي او مقایسوي علم دي (تعدد د رایو پکښي شتون لري):** په علم الرجال کې د راویانو په اړه علماء مختلف نظرونه لري، دا علم د اختلافاتو، مقایسو، او تحلیل علم دی. یو راوي ممکن د یوه عالم له نظره "ثقه" وي،

او د بل له نظره "ضعیف." دا ژور علمي بحث غواړي، چې نور علوم دومره اختلاف‌محور نه وي (الکوفي، ۱ جلد، ۴۶۵ مخ).

**ط: د علم الرجال ګټې او مزایاوې**

کولای سو د علم الرجال، څو مهمو ګټو ته په لاندې توګه اشاره وکړو:

**۱- د حدیث د سند په قوت او ضعف پوهېدل:** د دې علم په مرسته موږ د حدیث د سند (راویانو سلسله) قوت یا ضعف پېژنو. کله چې یو حدیث راوړل سي، نو د هغه د قبول یا رد له پاره باید دا وکتل سي، چې راویان یې څوک دي؟ آیا دا کسان باوري دي که نه؟ که راویان صادق، عادل، او د حافظې خاوندان وي، حدیث قوي ګڼل کیږي، او که دروغجن، غافل، یا عقیدوي مشکل ولري، حدیث ردیږي یا ضعیف ګڼل کیږي. نو علم الرجال د حدیث د قبول یا رد د بنسټ پرېکړې له پاره مهم اساس دی (الزریجاوي، ۴۲۷ – ۴۳۰ مخونه).

**۲- د راوي صفات پېژندل:** د دې علم په مرسته، موږ د هر راوي صفات پېژنو، لکه: آیا هغه راوي عادل دی که نه؟ د حافظې حالت یې څنګه دی؟ آیا دا راوي د اهل سنت له ډلې دی، که د یوې منحرفې ډلې؟ د هغه ژوندلیک، علم، زهد، او تقوی څنګه دی؟ د دې له لارې موږ پوهېږو چې دا راوي د اعتماد وړ دی که نه. دا صفات د حدیث د اعتبار له پاره حیاتي ارزښت لري (الزریجاوي، ۴۳۰ – ۴۳۲ مخونه).

**۳- د اړتیا په صورت کې د دلائلو تائیدول:** کله چې د فقه، عقیدې یا نورو علومو په بحثونو کې د یو دلیل ثبوت ته اړتیا پیښیږي، نو احادیث راوړل کیږي. خو یوازې حدیث راوړل کفایت نه کوي، تر څو چې د هغه سند صحیح نه وي. نو دا علم سند څېړي ترڅو معلومه سي، چې دا حدیث د شرعي دلیل په توګه کارېدای سي که نه؟. دا کار د دیني دلایلو د تائید له پاره لازمي ګڼل کیږي (الزریجاوي، ۴۳۲ –۴۳۵ مخونه).

**۴- د راویانو د فرقو او مذهبونو په اړه پوهېدل:** د دې علم په مرسته پوهېږو، چې کوم راوي د کوم مذهب یا فرقه پوري تړاو لري. دا مهمه ده، ځکه چې ځینې فرقې منحرفې دي او د هغوی روایات د شک وړ ګڼل کیږي. مثلاً: که یو راوي شیعه وي یا معتزله یا خوارجو څخه وي، نو د هغه روایت ته باید په احتیاط وکتل سي ښه تحقیق یې وسي. دا علم موږ ته دا راښیي چې کوم راوي د اهل سنت والجماعت په لاره روان دی او کوم د یوې منحرفې ډلې پیرو دی (الزریجاوي، ۴۳۷ –۴۳۹ مخونه).

**بحث او مناقشه**

د دې لیکنې بنسټیزه موخه د علم الرجال پېژندل، د دې علم ارزښت څرګندول، او دا روښانه کول وو چې یاد علم د اسلامي علومو په جوړښت کې بنسټیز ځای لري. د څېړنې موندنو ښکاره کړه کې علم الرجال نه یوازې د حدیث د صحت او ثبوت لپاره مهم دی، بلکې د فقهي استنباط، تفسیر، اجتهاد او د دیني استدلال د هرې پروسې لپاره

لومړنی معیار جوړوي. د راویانو د عدالت، ضبط، فکري تمایل او شخصي باورونو ارزونه هغه بنسټونه دي کې د دې علم اساس پرې ولاړ دی، او څېړني په ګوته کړه کې د دغو اصولو پیاوړی تطبیق د صحیح حدیث د ساتنې لپاره حیاتي دی. د څېړني د موخو او موندنو په هکله باید و وایو چې د څېړنې موخه دا وه؛ ترڅو علم الرجال په پښتو ژبه په علمي او تحلیلي بڼه تشریح کړي او هغه خلاوې ډکې کړي، کومې چې د دې علم په تدریس او عامه پوهاوي کې موجودې وې. د موندنو تحلیلي ارزونه ښیي کې دا هدف په بریالیتوب تر لاسه سوی دی. د عدالت او ضبط اصول، د جرح او تعدیل معیارونه، د راویانو طبقات او د علم الرجال تاریخي پرمختګ ټول هغه برخې دي چې د څېړني د اصلي پوښتنو روښانه ځوابونه ورکوي. څېړنه دا په څرګند ډول ثابتوي چې د حدیث د صحت او د اسلامي علومو د اعتبار لپاره د علم الرجال مقام اساسي دی.

څېړني څرګنده کړه چې د روایت د قبول یا رد بنسټ په بشپړ ډول د راوي د شخصیت، حافظې، امانت، صداقت او فکري سلامتی پورې تړلی دی. دا پایله د پخوانیو آثارو له موندنو سره مطابقت لري. ابن صلاح عدالت او ضبط د حدیث د نقد اصلي معیار ګڼي؛ ذهبي د میزان الاعتدال په ترڅ کې د راویانو شخصي او اخلاقي کمزوری د روایت په اعتبار اغېزمني ګڼي؛ او ابن حجر د طبقاتو په نظام کې د راویانو د احوالو منظم تصویر وړاندې کوي.

په همدې ډول، د سباعي او بغدادي څېړنو څرګنده کړې چې د سنتو تشریعي قوت هغه مهال خوندي وي چې د روایت سند او راوي معتبر وي. د دوی د څېړنو په رڼا کې، د دې مقالې موندنې هم دا ټینګار کوي کې د سنتو اعتبار ساتنه د علم الرجال په پیاوړتیا پورې تړلې ده.

همداراز، د یادې د څېړني پایلې له پخوانیو عربي او فارسي اثارو سره په ډېرو مواردو کې همغږي لري. لکه: -د عدالت او ضبط اصول له ابن صلاح، ذهبي او ابن حجر سره هراړخیز مطابقت لري. -څېړنه دا تائیدوي کې د راوي فکري انحراف، اخلاقي ضعف او حافظوي ستونزې د حدیث په صحت مستقیم اغېز لري. -د سند ارزونې تدریجي تکامل هغه څه دي چې د الزریجاوي او خلیل ـ کاظم په څېړنو کې هم یاد سوي دي. خو څېړنه له پخوانیو کارونو څخه په څو برخو کې توپیر لري، او دا توپیرونه د ژبني خلا په نتیجه کې رامنځته کیږي. لکه: په پښتو ژبه کې د علم الرجال منظم او معیاري علمي کار شتون نه لري یا کم دی. -معاصري ستونزې لکه جعلي روایتونه او انلاین بې‌کیفیته محتوا په پخوانیو اثارو کې نه دي څېړل سوې، خو دا څېړنه پرې رڼا اچوي. - د تدریس او عامه پوهاوي اړخونه په نوې بڼه تحلیل سوي دي. د دې ترڅنګ؛ دا څېړنه په څو برخو کې نوي علمي اضافه والي وړاندي کوي. لکه: -په پښتو ژبه د علم الرجال لومړنی جامع او معیاري تحلیلي څېړنه ده. -د پخوانینو او معاصرو سرچینو له مخې د علم الرجال د عملي اړتیاوو نوې تشریح وړاندې کوي. -هغو معاصرو ستونزو ته اشاره کوي کې د علم الرجال له نه پېژندلو رامنځته کیږي، لکه: د سوشل میډیا جعلي حدیثونه، د ضعیفو اسنادو پر بنسټ فتواوې، د دیني متونو نه درک.

په هر صورت؛ څېړنه څرګندوي چې علم الرجال د اسلامي علومو د ټولو برخو بنسټیزه ستنه ده؛ ځکه چې له صحیح حدیث پرته نه تفسیر اعتبار لري، نه فقه، نه سیرت، نه اجتهاد او نه قضاوت. همداراز؛ په علم الرجال نه پوهېدل د دیني علومو په هره برخه کې د انحراف زمینه برابروي. د جعلي روایتونو د خپرېدو په څېر معاصري ستونزې چې په څېړنه کې تحلیل سوې، دا ثابتوي چې د علم الرجال تدریس، عامه پوهاوی، او ژبنی لاسرسی په اوسني وخت کې تر هر بل وخت ډېر اړین دی.

**پایله**

د پورته څېړني په رڼا کې دې پایلي ته رسېږو؛ چې علم الرجال د اسلامي علومو له خورا بنسټیزو، مهمو او حیاتي برخو څخه دی. چې د حدیثي روایتونو د ناقلینو د پېژندني، ارزوني او طبقه بندۍ لپاره رامنځته سوی دی. دا علم د راویانو د اساسي مفاهیمو لکه: العدالة، الضبط، الجرح، التعدیل، الثقة، الضعف، الاتصال او الانقطاع پر بنسټ ولاړ دی او د حدیث د سند د کره‌والي د ارزوني یوه دقیقه، علمي او معیاري تګلاره ده چې د راویانو د شخصي، اخلاقي، عقیدوي او علمي حالتونو پر اساس د روایت د قبلېدو یا ردېدو حکم کوي.

دا هم روښانه سوه چې د راویانو د عدالت، حافظې، شخصیت او د روایت د اعتبار د ارزونې لپاره دقیق او ټاکلي معیارونه کارول سوي دي، لکه د راوي د دیني التزام او تقوا ارزونه، د حافظې او ضبط دوام، د روایتونو د مطابقت او اختلاف څېړنه، د راویانو ترمنځ د ملاقات امکان، او د جرح او تعدیل د ائمه‌وو اقوالو ته مراجعه. دا معیارونه د ظن او شخصي قضاوت پر ځای د تکراري ازموینې، مقایسې او علمي احتیاط پر بنسټ ولاړ دي، چې د روایت د منلو یا رد پرېکړه پکښې په تدریجي او مستند ډول ترسره کیږي.

همداراز، واضح سول چې د علم الرجال د بنسټ ایښودني او پراختیا په برخه کې سترو محدثینو لکه یحیی بن معین، علي بن المدیني، امام احمد بن حنبل، امام بخاري، امام مسلم، امام نسائي، ابن أبي حاتم، دارقطني او ابن حجر العسقلاني بنسټیز رول لوبولی دی. دغو علماؤو د راویانو د ژوندلیکونو راټولول، د جرح او تعدیل اصول منظمول، د طبقو تثبیت او د سند د نقد علمي مېتودونه رامنځته کړل، چې د حدیثي علومو د معیاري کیدو سبب سول.

په پای کي ویلای سو چې د اسلامي شریعت د دوهم اساسي مصدر (نبوي سنت) د حفاظت لپاره و علم الرجال ته اړتیا لیدل کیږي. دا علم د حدیث د قبول او رد لپاره یو نه بدلېدونکي معیار دی او د هغه له تطبیق پرته د صحیح، حسن او ضعیف حدیث ترمنځ کره توپیر ممکن نه دی. له همدې امله، یاده څېړنه په اثبات رسوي چې علم الرجال نه یوازې د حدیثي نقد بنسټ دی، بلکې د فقهي استنباط، عقیدوي سلامتی او د اسلامي علمي امانت د ساتني لپاره حیاتي ارزښت لري.

## وړاندیزونه

د ترسره سوې څېړنې په رڼا کې، د علم الرجال د پیاوړتیا، تدریس، او تطبیقي مطالعې لپاره لاندې سپارښتنې کیږي:

۱-د معارف او لوړو زده‌کړو وزارتونه دې د ښوونځیو او لیسانس په تحصیلي نصابونو کې د علم الرجال لپاره ځانګړې درسي واحدونه شامل کړي، څو زده‌کوونکي له لومړیو پړاوونو د حدیث د سند د کره‌والي له اصولو سره بلد سي.

۲-پوهنتونونه او علمي مرکزونه دې هڅه وکړي چې د علم الرجال اړوند لیکنې، آثار، مقالات او مخطوطات ډیجیټلي کړي او معیاري علمي ډیټابیسونو ته یې داخل کړي، تر څو محصلین او څېړونکي اسانه، چټک او منظم علمي لاسرسی ولري.

۳-علماء، محدثین او د حدیث د علومو څېړونکي باید د روایتونو په ارزونه کې د شخصي نظریاتو وړاندې کولو څخه ډډه وکړي، او یوازې د جرح او تعدیل پر علمي، معیاري او منل سوو اصولو تکیه وکړي، ترڅو د حدیث د ارزونې بهیر خپل اصلي علمي حیثیت وساتي.

۴-د څېړنې، ژباړې او خپرونې بنسټونه باید هڅه وکړي چې د علم الرجال بنسټیز او مهم عربي آثار په تخصصي او مسلکي توګه پښتو ته وژباړي، ترڅو په محلي علمي چاپېریال کې د دې علم د تدریس او څېړنې امکانات پراخ سي.

۵-راتلونکې څېړنې دې د علم الرجال په ځانګړو موضوعاتو، شخصیتونو، سیمو، مکتبونو، او تاریخي دورو تمرکز وکړي، ترڅو د دې علم د داخلي ابعادو، پرمختګونو او تخصصي ساحو په اړه نوې علمي کړکۍ پرانیستل سي.

## اخځلیکونه

القرآن الکریم.

- القرآنکریم، د معانیو پښتو ترجمه او تفسیر،(بې نېټه) . ۱ ټوک، د پاچا فهد چاپخانه.
- البخاري، م.ب.إ.ب.م.أ.ع (۱۴۰۷هـق). الجامع الصحیح البخاري .القاهرة: دار الشعب.
- الترمذي، م.ب.ع. (۱۴۳۹ هـ). سنن الترمذي .الریاض: مکتبة المعارف.
- العسقلاني.ا.ح. (۱۹۸۴م). تهذیب التهذیب، بیروت: دار الفکر.
- ابن صلاح، ع.ب.م. (۱۴۱۶هـ) .مقدمه ابن الصلاح فی علوم الحدیث .بیروت: دار الفکر.
- البغدادي، أ.ب.ع. (۱۳۸۱هـ) .الکفایه فی علم الروایه .قاهره: دار الکتب العلمیه.
- ابن الجوزي. (۱۹۹۹م). مناقب الإمام أحمد بن حنبل، بیروت: دار الکتب العلمیة.
- الذهبي، ش.د. (بې نېټه) .میزان الاعتدال في نقد الرجال (ټوک ۱). دار الکتب العلمیة.
- الذهبي، ش.د. (۱۹۹۸م). تذکرة الحفاظ، بشار عواد معروف، محقق، بیروت: دار التراث العربي.

- الذهبي، ش. د. (۲۰۰۱م). سير أعلام النبلاء، شعيب الأرنؤوط، محقق، بيروت: مؤسسة الرسالة.
- الزبيدي، ع. ب. م. (۱۴۱۸هـ) .التعريفات (ټوک ۱). دار الكتب العلمية.
- السبحاني، ش. ج. (۱۴۰۸هـ) .كليات في علم الرجال (شپږمه چاپ). مؤسسه النشر الاسلامي، قم مقدسه.
- السبحاني، ش. ج. (۱۴۲۴هـ). دروس موجزه في علم الرجال والدراية .المركز العالمي للدراسات الإسلامية، قم مقدسه.
- الشريف الجرجاني، ع. ب. م. ب. ع. ز. (۱۴۰۳هـ). التعريفات .دار الكتب العلمية.
- الشهرزوري، أ. ع. ع. ب. الصلاح. (۱۹۸۶م). مقدمة ابن الصلاح في علوم الحديث (ټوک ۱). دار الفكر.
- الفضلي، ع. ه. (۱۴۲۰هـق) اصول علم الرجال، مؤسسه ام القرى، طبعه الثالثة –بيروت.
- المحسني، م. آ. (۱۴۳۲هـق). بحوث في علم الرجال، مركز المصطفى ﷺ العالمي، مطبعه زلال الكوثر، الطبعه الخامس –ايران.
- الشهرزوري، أ. ع. ع. ب. الصلاح. (۱۹۸۶م). علوم الحديث (مقدمة ابن الصلاح) .دار الفكر.
- الطلقاني، أ. ا. ا. ب. ع. (۱۹۹۴م). المحيط في اللغة. م. ح. آل ياسين، ايډ. عالم الكتب.
- الفارابي، أ. ن. إ. ح. (۱۹۸۷م). الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية (أ. ع. عطار، ايډ.). دارالعلم للملايين.
- الفراهيدي، أ. ع. أ. أ. (بې نېټه). العين، (م. المخزومي او نور، ايډ.). دار ومكتبة الهلال.
- القزويني، س. م. ح. (۱۴۳۸هـ). المدخل الى علم الرجال والدراية .المديرية العامة للحوزة العلمية، قم مقدسه.
- التهانوي، م. ب. ع. إ. ا. ح. ب. م. ص. الفاروقي الحنفي. (۱۹۹۶م). موسوعة كشاف اصطلاحات الفنون والعلوم (د. ر. العجم او د. ع. دحروج، ايډ.). مكتبة لبنان ناشرون.
- العسقلاني، ا ح. (۱۹۹۳م). تهذيب التهذيب (ټوک ۱). دار الكتب العلمية.
- ابن منظور، م. ب. م. ب. ع. (۱۹۹۹م). لسان العرب (۳مه چاپ، ټوکونه ۱–۵). دار إحياء التراث العربي.
- النجاشي، أ. ا. أ. ب. ع. (۲۰۱۰م). رجال النجاشي (ټوک ۱). مؤسسة الأعلمي للمطبوعات.
- المشكيني، م. أ. ح. (۱۴۱۰هـ). الوجيزة في علم الرجال (ز. الأعراجي، ايډ.). مؤسسه الأعلمي للمطبوعات.
- الزريجاوي، ع. ز. (۲۰۱۳م). علم الرجال د اماميه فقهاوو له نظره: پيل او پرمختګ. د كربلا د مطالعاتو او څېړنو مركز مجله –د كوفې پوهنتونhttps://journal.uokufa.edu.iq/index.php/ksc/article/view/5137.
- العدوي، مصطفى، ب.ت. د مصطلح الحديث علم په سوال او ځواب كښې، ژ: بشار، محمد عمر، http://www.larawbar.com
- العباد، ع. او المراد، (ب.ت). مصطلح الحديث، ژ: حسن، عامر، مكتبة منهاج السنة.
- العيد، ج. ع. س. (۲۰۱۵م). الحديث التحليلي –دراسة تأصيلية، عمان –دار ومكتبة الحامد للنشر والتوزيع.
- خليل، ع. ن. او كاظم، ع. ع. (۱۴۴۱هـق). التعريف بالعلم الرجال ومكانته بين العلوم، مجلة الأدب.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal


| Volume:2 | Issue: 2 | Year:1404 |
| --- | --- | --- |